دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

# شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

PROPERTY OF ACKU

**درس قرآن**

بې له شکه چې له الله نه ډاربدونکي خلک به په باغونو او چینو کې وي. د خپل رب ورکړي نعمتونه به په خوښی سره اخلي خکه چې دوی له دېنه په مخ کې ژوند کې نیکوکاران وو. د شپې به ډېره لږه برخه کې ویده کېدل او د شپې په آخرنی برخه کې بې بخښنه غوښتله په مالونو کې یې د سوالگرو او بې وسو برخه مالومه وه. (الذاریات ۱۴ – ۱۹ آیتونه)

**درس حدیث**

له حضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې ما له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه د غوره ایمان په هکله پوښتنه وکړه هغه وفرمایل: غوره ایمان دا دی چې ته نورو خلکو لپاره هغه څه خوښ کړی چې خپل خان ته یې خوښوې او هغوی لپاره هغه څه بد وگڼې چې خپل خان ته یې بد گڼې. (رواه احمد)

شهادت دریم کال، ۲۵ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۵ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وږی ۲۳ مه د۱۴۳۲ هـ ق د شوال ۱۲ مه د۲۰۱۱ م د سپتمبر ۱۴ مه

## حامد کرزی از مخالفین مسلح خواست تا از جنگ دست بردارند

کابل، رسانه ها:
ریس جمهور کرزی از مخالفان مسلح دولت افغانستان خواسته تا از جنگ دست بردارند.
آقای کرزی این درخواست را در محفلی فراغت یک هزار و پنجاه تن از محصلان انستیتوت ملی اداره و منجمنت در کابل کرد.
حامد کرزی ریس جمهور افغانستان در محفل اعطای اسناد فراغت به اولین دور فارغان انستیتوت اداره و منجمنت یک بار دیگر از مخالفان مسلح دولت خواست تا از جنگ دست بردارند.
آقای کرزی در محفلی فراغت محصلان انستیتوت اداره و منجمنت به روز سه شنبه، تلاش های مخالفان دولت را به منظور جلوگیری از پیشرفت افغانستان بی نتیجه خواند.
وی در ادامه صحبت هایش چنین گفت:
" آن عده از حلقات بد خواه افغانستان که در داخل و خارج فعالیت دارند و می خواهند جلو ترقی افغانستان را بگیرند باید بدانند که با وجود همه تلاش های شان افغانستان باز هم رو به ترقی روان

بقیه در صفحه ۴

## امریکا په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره موافقه وکړه "ټایمز"

کابل، پژواک:
د طالبانو د وخت د بهرنیو چارو پخوانی وزیر وکیل احمد متوکل وایي،چې په قطر کې د طالبانو د سیاسي مرکز پرانېستل به له دې ډلې سره د سولې د خبرو اترو لپاره یو اغېزمن گام وي. دا په داسې حال کې ده،چې تېره ورخ یوې انگلیسي ورخپاڼې ټایمز لیکلي و،چې د امریکا متحده ایالاتو د روان میلادي کال ترپایه پورې د قطر په مرکز دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر د پرانېستلو له پلان څخه ملاتړ کړی دی.
ویل کیږي،چې په قطر کې به دافغانستان د اسلامي امارت په نوم دطالبانو دا دفتر ،له ۲۰۰۱میلادي کال او د طالبانو له ړنگېدو وروسته ددې ډلې په رسمیت پېژندل شوی لومړنی مرکز وي.
د طالبانو د رژیم د بهرنیو چارو پخواني وزیر وکیل احمد متوکل پژواک خبري اژانس ته وویل چې که داسې دفتر پرانېستل شي،نو له طالبانو سره د سولې او نورو تړلیزو موضوعاتو په اړه د اړیکو لپاره به یو قوي او مناسب مرکز وي.

پاتې ۴ مخ

پینتاگون:

## د میدان وردک زوروره حمله د حقاني شبکې کړې وه

امریکا، رسنی:
د امریکا د متحدو ایالتونو دفاع وزارت یا پینتاگون، د دوشنبې په ورخ اعلان وکړ چې په میدان وردک ولایت کې د یوې لاری په وسیله زوروره چاودنه، چې اووه اویا (۷۷) امریکایي پوځیان یې ټپیان کړل او پنځه افغانان یې ووژل، د حقاني شبکې کار و.
وسله والو طالبانو د یکشنبې په مازدیگر په سید اباد ولسوالی کې د امریکایي ځواکونو د اډې په خوله کې د دې زوروري چاودنې مسوولیت په غاړه واخیست او ویې ویل چې دا برید یې په یوه لاری کې د نهو ټنو چاودېدونکو موادو په وسیله وکړ.
د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې د امریکا دفاع وزارت مطبوعاتي رییس جورج لیټل پرون وویل چې دا برید د حقاني شبکې کړی.
ده زیاته کړه، ډېر احتمال شته چې دا حمله د دې شبکې د اصلي مشرتابه په مټ شوې وي او هغوی له دې حملې خبر ول.
د حقاني شبکه، چې له القاعده او همدارازطالبانو سره تړلې ده، په پاکستان کې ځای پرځای ده.
د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې دا شبکه د افغانستان د

پاتې ۴ مخ

## چینایي کمپنی د افغانستان په شمال کې د تېلو د قرارداد گټونکې شوه

کابل، رسنی:
د چین د تېلو ملي کمپنی د افغانستان په شمال کې د تېلو د استخراج لپاره افغانستان ته تر ټولو ښه شرایط وړاندې کړل او په دې سیمه کې یې د پانگونې لپاره قرارداد، چې تېره میاشت اعلان شوی و، له خپلو سیالیو

کمپنو څخه خپل کړ.
د افغانستان د کانونو په وزارت کې د پالیسی رییس عبدالجلیل جومرایني وویل، د چین د تېلو ملي شرکت (CNPC) به د افغانستان په شمال کې له درو سیمو د تېلو د استخراج په بدل کې د افغانستان حکومت ته پنځلس فیصده گټه او ډېرش فیصده مالیه ورکړي همداراز به یو چاپځای جوړ کړي.
تر چین وروسته د استرالیا بکنر انرجي لمیټد زیات وړاندیز کړی و.
د ښاغلي جومرایني په وینا استرالیایي کمپنی افغانستان ته د لس فیصده ونډې وړاندیز کړی و.
د افغانستان او چینایي کمپنی ترمنځ قرارداد به په یوه میاشت کې بشپړ شي او په دې توگه به چین په افغانستان کې تر ټولو په ستربهرني پانگوال بدل شي.
دې هیواد تر دې مخکې په ۲۰۰۷ ع کال د لوگر د عینکو د مسو د کان ټېکه هم اخیستې ده چې د نړۍ د مسو یو تر ټولو لوی کان گڼل کېږي.
چین به د لوگر د مسو د کان لپاره برېښنا کوټ او د اورگاډي پټلی هم جوړه کړي.

پاتې ۴ مخ

## تا سال ۲۰۱۴ تعداد عساکر اردوی ملی افغان به ۱۹۵ هزار تن خواهد رسید "ناټو"

کابل،ر سانه ها:
مقامات ناتو روز گذشته گفتند: تا پایان سال ۲۰۱۴ میلادی که مسوولیت های امنیتی به قوای افغان سپرده می شود، با وجود درجهء بلند فرار از صفوف اردو، تعداد عساکر اردوی ملی را به ۱۹۵ هزار نفر بلند خواهد برد.
ناتو تا سال ۲۰۱۴ میلادی که مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان واگذار می گردد، تلاش می کند که یک اردوی قوی و مجهز بسازد که شمار آن به ۱۹۵ هزار عسکر خواهد رسید.
این موضوع را ناتو روز دوشنبه در یک زمانی بیان کرد که فرار از صفوف اردو افزایش یافته است.
به نوشته رویترز، فرار یک سوم از عساکر تازه استخدام شده، انتقادهای را بوجود آورده است مبنی بر این که در ایجاد اردوی ملی از عجله کار گرفته شده و به عوض کیفیت بیشتر به کمیت آن توجه شده است تا زمینهء برای بیرون رفت هر چه زودتر قوای غرب مهیا گردد.

بقیه در صفحه ۴

## دا د حکومت دنده ده چې استعدادونه په کار واچوي

محمد خلیل

د تېرې سه شنبې په ورخ د وږي په پنځلسمه ولسمشر حامد کرزي د ځوانانو د عالي شوری دویمې غونډې ته په وینا کې وویل: د هېوادونو د پرمختگ راز په تعلیم او زده کړه کې دی، نوموړي زیاته کړه تر هغه چې افغانستان په خپلو پښو ونه دریږي، ډاکتر یې د خپلو ناروغانو درملنه پخپله ونه کړي، انجنیر یې خپل پل پخپله جوړ نکړي او د خپلو مامورینو تنخوا له خپلو عوایدو ور نه کړي دې به افغان ځوانان د تعلیم پرته بل هېڅ شی ته تشویق نه کړي، هغه پر ځوانانو غږ وکړ چې زده کړه وکړي او له زده کړی پرته بل څه ته مخه ونه کړي.
هغه وویل: د افغانستان ځوانان لوړ استعدادونه لري او که له دغو استعدادونو گټه پورته شي افغانستان به د پیاوړو هېوادونو په لیکه کې ودرېږي.
ښاغلی کرزي صیب چې ځوانانو ته پخپل خطاب کې کومې خبرې کړې دي د کاڼې کرښې او بالکل پر ځای دي او هر څوک دهغه د دغو خبرو تایید او ملاتړ کوي، له دې څرگند او مسلم حقیقت نه هېڅوک انکار نشي کولې چې د هېوادونو د پرمختگ او خوشالي راز په تعلیم کې دی، یوازې هغه قومونه او ولسونه د آرام او هوسا ژوند خاوندان شوي دي چې د علم او زده کړې په ډگر کې پرمختگ کړې. یوازې هغه ولسونه د نړۍ پر اقتصاد او د خلکو پر زړونو حکمرانی کوي چې د علم او زده کړی په گاڼه سنبال دي، ...

پاتې دویم مخ

## لویه جرگه واقعاً عنعنوی!؟

صفحه سوم

## د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د لیبیا دنوي حکومت د ملاتړ لپاره اقدامات کوي

کابل، پژواک:
د افغانستان د وزیرانو شورا پرېکړه وکړه چې د بهرنیو چارو وزارت دې د دیپلوماتیکو اصولو او دودونو له مخې،د لیبیا له انتقالي شورا سره دافغانستان دولت دملاتړ په اړوند لازم اجراات وکړي .
دچارو د اداري او د وزیرانو شورا ددارالانشا دلوی ریاست دمعلوماتو له مخې،د وزیرانو شورا دغه پرېکړه تېره ورخ وروسته له هغه وکړه ، چې ولسمشر حامد کرزي دلیبیا هېواد دانتقالي شورا د په رسمیت پېژندلو موضوع غونډې ته طرحه کړه .
د لیبیا انتقالي شورا ، چې څو ورځې مخکې یې مرکز له بنغازي ښار څخه د دغه هېواد پلازمېنې طرابلس ته ولېږداوه د امریکا ، روسیې ، بریتانیا، تونس او الجزایر په گډون د یو شمېر هېوادونو له خوا په رسیمت پېژندل شوې ده .
د لیبیا د وسلوالو مخالفینو له لوري د طرابلس تر نیول کېدو وروسته،د لیبیا ولسمشر معمر قذافي نامعلوم لوري ته تللی او کله نا کله د راډیویي پیغامونو له لارې خپل مخالفین گواښي او د

پاتې ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# آیا د شهیدانو وارثان دا ښاغلي دي؟

د تېرې جمعې په ورځ د احمد شاه مسعود د شهادت د لسمې کلیزې په غونډه کې ځینو جهادي مشرانو چې ځانو ته یې د جهاد استاذان هم ویل یو ځل بیا له فرصت نه په گټې اخیستو کوښښ کوي چې خپله درنه او د نورو سپکه ووایي ملت ته داډ ورکړي چې یوازې همدوی د هېواد او خاورې خدمتگاران او د شهیدانو د ارمانونو ممثلین دي. د افغانستان ولس له وړاندې نه ددغو استاذانو دا مهارت منلی دی چې د سټیج په سر زړه گرموونکو او احساساتي بیانیو په ورکولو کې بې سارې دي خو تشه احساساتي بیانیې تر هغه څه گټه نه لري تر څو چې عمل وربانديې ونه شي، زموږ دغو جنابانو لوی کمې دا دی چې تر اوسه د عمل په ډگر کې یې د هېوادوالو تنده نه ده ماته کړی او د هغوی هغه غوښتنې یې نه دی ترسره کړی چې ترېنه غواړي. هر څوک پوهېږي چې یوازې د شهید او مجاهد د کارنامو په ستایلو د کونډو رنډو، یتیمو، معلولینو او نورو کړېدلو وگړو کړاوونه له منځه نه ځي او د شهیدانو ارمانونه نه ترسره کېږي، دې لپاره د جهاد استاذانو او مشرانو قرباني ته هم لوی ضرورت دی، مجاهد او شهید خو د خپلې عقیدې، خاورې، ناموس او اسلامي حکومت د قیام لپاره د خپل قیمتي ژوند په نذرانه کولو خپل مسؤلیت او رسالت ترسره کړې دی او هغوی د خپل خدای په وړاندې سرلوړی دي.

خو مشران دې هم ددې خبرې ځواب ورکړي چې آیا هغوی هم کله خپل مسؤلیت د خدای او ولس په وړاندې ادا کړی دی او که یوازې د شهیدانو په وینو د تجارت لاره یې پرمخ بوولې او خپلې گټې پاللې دي؟ آیا په دې لاره کې لږ تر لږه چېرته د خپلو خواهشاتو قرباني هم ورکړې دی؟

آیا دوی کله په دې خبره هم غور کړېدی چې په یو اسلامي هېواد کې قومي اختلافاتو ته لمنه وهل او د یو بل په خلاف د جنگ په مورچو کېناستل د شهیدانو له وینو او ارمانونو سره جفا ده؟

آیا پنځلس لکه ځوانانو دې لپاره خپلې ککرۍ نذرانه کړی وی چې د جهاد استاذان دې د افغانستان مسلمان ولس په ډلو ټپلو وویشي، قومي، ژبنی او سمتي تعصبونو په اور کې دې ودروي؟ پخپله دې شهر کونه، پلازې او بلند منزلونه جوړ کړي مگر د شهیدانو کونډې او یتیمان دې د گدایي کچکول په غاړه واچوي پخپلو اولادو دې د اروپا او امریکا په پوهنتونو کې سبقونه ووایي او د شهید او مجاهد اولادونه دې د غریبۍ او نیستۍ له لاسه در په در او خاورې په سر وگرځي، خپلې ښځې او لورگانې دې د سرو زرو او یاقوتو په گاڼه سنبال کړي مگر د شهید او مجاهد ښځې او بچي دې شلېدلې کباړي لباس هم ونه لري، لعنت دې وي په داسې شهید پالنې او لعنت دې وي په داسې اسلام پالنې چې صرف د شهیدانو د کلیزو په غونډو کې په احساساتيَ ویناو خلاصه کېږي.

هغه مشران چې عملاً د شهیدانو د ارمانو د تحقق لپاره گامونه نه اوچتوي هغوی د شهیدانو او مجاهدینو د نومونو په اخستلو خورا بد ښکاري، دا اصلاً د شهیدانو په وینو تجارت دی چې دوی یې کوي.

ولس به له شهیدانو او مجاهدینو سره ددوی مینه او اخلاص هله ومني چې دوی پخپلو کې یو موټې او یو آواز شي، یو شعار او یو دریځ اعلان کړي، د ولس د مشکلاتو د لرې کولو او په هېواد کې د امن د تأمین لپاره عملي گامونه اوچت کړي، دهغوی د اولادو او کورنیو هم همغسې خدمت وکړي څنگه چې د خپلو اولادو او کورنیو کوي، که نه نو هسې د شهیدانو په تش صفت د شهیدانو د وارثینو او مظلوم ولس په ټپونو د مالگې او مرچکې دوړولو پرته بل هېڅ گټه نه لري.

# دا د حکومت دنده ده چې استعدادونه په کار واچوي

(د دویم مخ پاتې برخه)

....هغوی یوازې د علم له لارې توانېدلي دي چې فضاء، سمندر او ځمکه خپل تسخیر لاندې راولي او د کائناتو له ذرې ذرې نه گټه اوچته کړي. په ساینس، زراعت، اقتصاد، صنعت او د ټیکنالوژۍ په ډگرونو کې چې څومره په زړه پورې پرمختگونه او آسانتیاوې تر سترگو کېږي په دې کې د علم او پوهې ستر لاس دی خو په دې واقعیت هم پوهېدل پکار دي چې د تعلیم په ډگر کې د پرمختگ لپاره د امن او وروړگلوی فضأ ترڅنگ پیاوړې اقتصاد ته هم ضرورت دی، هغه لوازمات هم اړین دي چې د علم د زده کړې لپاره حیاتي ارزښت لري، داسې پوه او مسلکي استاذان هم پکار دي چې د شاگردانو سالمه روزنه او ښوونه وکړي، همدغه راز شاگردانو او دهغوی کورنیو ته هم دداسې سالمې فضأ مهیا کول ضروري دی چې یو شاگرد په آرام دماغ ښوونځي ته لاړ شي او له څه پریشانی پرته خپل درسونه تعقیب کړي، د ماشومانو مور او پلار هم په یو داسې حالت کې قرار ولري چې خپل اولادونه د یوې نوړۍ د حلال رزق دترلاسه کولو لپاره مزدورۍ ته ونه لېږي، دهغوی مالي حالت دا ایجاب کړي چې د خپلو اولادو د تعلیم او کورسونو مصارف پوره کړي.

خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې ډېرو لږو وگړو ته د زده کړې آسانتیاوې برابرې دي، چېرته د جنگونو او جگړو له لاسه ماشومان د زده کړې له ستر نعمت څخه محروم دي او چېرته د غربت او بېچارگۍ له لاسه مور او پلار نشي کولې چې خپل اولادونه ښوونځیو او لیسو ته ولېږي، په سلو کې ۹۰ وگړي د یو وخت ډوډۍ لپاره حیران دي، بې کاره او بې روزگاره دي، که چاته کارونه هم پیدا شي نو هغوی ته دومره لږه مزدوري ورکول کېږي چې اصلاً پخپله مزدور له پاره هم کفایت نه کوي، مثلاً یو مامور، معلم او ملازم ته په میاشت کې شپږ اوو زره افغانی ورکول کېږي، همدغه راز یو مزدورکار، گلکار او ټاټکی چلوونکی ته په ورځ کې دوه، دوه نیم سوه افغانی مزدوري ورکول کېږي چې په حقیقت کې دغه پیسې دهغه د اوړو، غوړیو او سبزیو ضرورت هم نشي پوره کولې، داسې یو پلار به څنگه وتوانېږي پخپلو اولادو سبقونه ووایي، مگر بیا هم ډېر داسې ځوانان او مراحق هلکان تر سترگو کېږي چې نیمه ورځ مزدوري کوي او نیمه ورځ په ښوونځي او لیسه کې خپل درسونه وایي.

زیاتره ځوانان د غربت او لاچارۍ له لاسه خپل تعلیمونه نیمگړي پرېږدي، ددې پر ځای چې خپل درسونه تر آخري کچه تعقیب کړي په منځ کې پرېږدي او خپلو واړه وروڼو خویندو او کمزورو پلارانو او مورگانو ته د خوراکي ځیزونو او نورو ضروري اړتیاو د پوره کولو لپاره مزدورۍ پسې اوځي او په دې توگه د علم د زده کړې له حق نه محروم پاتې کېږي.

ښاغلي کرزی صیب! په دنیا کې هېڅ یو ارمان تر هغه نه پوره کېږي تر څو چې هغه لپاره په عملي قالب کې هلې ځلې ونشي، په خبرو او خیال کې خو ډېرې غټې منصوبې او نقشې جوړېدلې شي خو د عمل په ډگر کې دا تر هغه تحقق نه شي موندلې تر څو پورې چې هغه لپاره زمینه، وسایل او نور لوازمات مهیا نه کړی شي.

د افغانستان وگړي له تعلیم او زده کړې سره کلکه مینه لري او هر څوک غواړي چې پر خپل اولاد سبقونه ووایي، هر څوک غواړي چې په دې هېواد کې تکړه ډاکتران، انجنیران، اقتصاد پوهان، قانون پوهان، زرعي ماهران او نور د علم او کسب خاوندان پیدا شي تر څو هېواد په هر ډگر کې پخپلو پښو ودرېږي، او د نورو هېوادو له محتاجۍ او گدایۍ نه خلاص شي خو له بده مرغه ددې لوی ارمان مخه په حکومت کې موجود هغو فاسدو عناصرو ډب کړې چې ایله د خپلو گېډو د ډکولو په فکر کې دي، دهغوی هلې ځلې یوازې د خپلو جولیو د ډکولو او د هېواد نه دباندې د کورونو او پلازو د جوړولو او د بانکونو د ډکولو لپاره دي.

په داسې یو هېواد کې به علم او زده کړه څنگه پرمختگ وکړي چې بیت المال د څو محدودو کسانو په لاس کې وي او یوازې همغوی ترېنه گټه اوچتوي؟

په داسې یو هېواد کې به ځوان نسل څنگه خپله علمي تنده ترسره کړي چې د گوتو په شمار څو کسان خو دې په میاشت کې لکونه ډالر جیبونو کې واچوي مگر نور بیچاره ولس دې د یو نوړۍ ډوډۍ لپاره په جیب کې څو افغانۍ هم ونه لري؟

هغه مور او پلار به پخپل ځوان اولاد د تعلیم ارمان څنگه پوره کړي چې د اوسېدو لپاره په ټول افغانستان کې یوه بسوه کور نه لري هغوی د ژوند په هر ډگر کې له غمونو او کړاوونو سره لاس او گرېوان دي، نه یې د کور مشکل حل دی او نه هم د ډوډۍ او نورو ضروریاتو.

جناب کرزی صیب! که تاسې د کابل او د هېواد نورو ولایتونو سړکونو او کوڅو ته لاړ شئ نو ډېر داسې تنکي ماشومان او جنوکیانې به ووینئ چې پښې ابلې او شلېدلې جامې څوک اوبه خرڅوي او څوک د پلاستیکو خلطې، څوک برس په لاس دچا بوټ پالش کوي او څوک سوالونه کوي، دا کارونه نه څوک د مستۍ نه کوي او نه د عیاشۍ نه بلکې د لوږې او تندې اور د وژلو لپاره یې ترسره کوي.

کاش چارواکي د افغانستان د غریب او مظلوم ولس له دغو کړاوونو خان خبر کړي او دهغوی د له منځه وړلو لپاره په بشپړ اخلاص هلې ځلې وکړي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د یو هېواد د پرمختگ بنسټیز راز علم دې خو لدې واقعیت نه هم باید سترگې پټې نه کړو چې د علم د زده کړې لپاره زمینه او د نورو ضروري وسایلو مهیا کول هم له سترو بنسټیزو کارونو څخه دی، مثلاً د علم د زده کړې لپاره د ښوونځي، استاد، قلم، کتابچه، کتاب او امن ضرورت دی، که دا نه وي نو د علم او زده کړې آرمان هسې یو بې تعبیره خوب دی چې هېڅ گټه نه لري.

په دې کې د هېڅ ډول شک او تردید ځای نشته چې د افغانستان ځوان قشر د لوړو استعدادونو خاوندان دي، هغوی ته چې د ژوند په هر ډگر کې د خپلو استعدادونو څخه د گټې پورته کولو چانس ورکول شوې حیرانوونکې کارنامې یې ترسره کړې دي او په هر ډگر کې د خپل هېوادوالو سرونه یې له فخر نه اوچت کړي دي. خو پوښتنه داده چې زموږ د افغانستان د ځوان نسل له دغه استعداد نه د گټې د پورته کولو مسؤلیت دچا په غاړه دی؟ آیا له حکومت پرته دغه غریب ځوانان کولې شي چې په خالي گېډه خپل استعداد په کار واچوي؟ نه هر گز نه، لکه څنگه چې مخکې وویل شو چې د استعدادونو د لوړتیا او له هغوی نه د گټې د پورته کولو لپاره د پیسو، تعلیمي ماحول، امن او نورو بنسټیزو ضرورتونو مهیا کول خورا ضروري دي، خو دا مسؤلیت اصلاً د حکومت پر غاړه دی، کرزی صیب او د حکومت نور لوړ پوړی چارواکي دې پخپله له خپل ضمیر سره شریعت وکړي چې آیا هغوی واقعاً دا سهولتونه مهیا کړي دي؟ که یې کړي دي آیا کافي هم دي او که نه؟ که کافي نه دي نو راتلونکی لپاره څه تصمیم لري؟

د افغانستان مسلمان ولس د حال په ژبه کرزي صیب ته بشپړ ډاډ ورکوي چې د خپل هېواد د پرمختگ لپاره د علم او زده کړې په میدان کې له بل هېچا نه د وروسته پاتې کېدو نیت نه لري او صمیم عزم لري چې د علم په زده کړه کې به له هېڅ ډول ناغېړۍ څخه کار نه اخلي خو خپلو لوړ پوړو چارواکو څخه هم په کلکه غواړي چې د ولس د کړاوونو د ختمولو او زده کړې د فضأ د مساعد کولو لپاره له اخلاصه ډک گامونه اوچت کړي. د اداري فساد مخه ونیسي، په ټولو ادارو کې شفافیت رامنځته کړي، ولس ته د کار کسب زمینه برابره کړي تر څو هرچا ته د حلال رزق د ترلاسه کولو فرصت په لاس ورشي، ځوان نسل په مزدوریو پسې د سرگردانۍ پر ځای خپل درسونه تعقیب کړي، کورسونه ووایي، د لوړو زده کړو مصارف پوره کړي، هغه معیاری زده کړی وکړي چې په بهرنیو هېوادو کې د زده کړې په وخت دهغوی دتعلیم او تربیې له طور او طریقونه گټه اوچته کړي، د نوی عصري علومو په زده کولو کې له مشکلاتو سره مخامخ نشي او بالاخره د خپلو هېوادوالو د خدمت مصدر وگرځي.

جناب کرزی صیب! د افغانستان هر ځوان ستاسې له دې خبرې سره بشپړ توافق لري چې د هېواد د پرمختگ راز په تعلیم کې دی، ستاسې په څېر هر ځوان په دې پرمختللي عصر کې هیله لري چې تعلیم وکړي او د نورو هېوادو په څېر خپل هېواد هم د پرمختللیو هېوادو په صف کې ودروي خو دغه ارمان ته د رسېدو یواځینی لاره داده چې حکومت په صحیح معنی د ځوان نسل په وړاندې د تعلیم او تحصیل زمینه برابره کړي، د لوړو تحصیلاتو او تخصص د ترلاسه کولو لپاره یې بهرنیو هېوادو ته واستوي تر څو په افغانستان کې د فني او مسلکي استاذانو یو پیاوړې گروپ تیار او راتلونکی لپاره د علم او عرفان داسې شمع بله کړي چې دهغې په رڼا کې افغانستان نه یوازې دا چې پخپلو پښو ودرېږي بلکې له نورو نه هم مخکې شي.

# عالي جنابانو آفرین!

د ولسي جرګې له ټاکنو تراوسه یو کال او یوویشت ورځې تېرې شوې، دا چې په تېرو ټاکنو کې څومره درغلی وې، نه غواړم بحث پرې وکړم، یوازې پر دې خبره بحث کول غواړم، چې ۱۳۸۹ لمریز کال د زمری د میاشتې د نهه ویشتمې نېټې راوروسته چې حکومت، قضائیې قوې، لویې څارنوالی او د بې شمېره پوښتنو، اعتراضونو، انتقادونو او ډول ډول معامله ګریو وروسته کومه ولسي جرګه رامنځته شوې ده، دهغوی پر کړنو لنډ بحث وکړم، او دا چې ددغو قدرمنو قواو د کړنو او سترګو پټونو اغېز به په آینده کې پر ولسي وګړیو څه ډول وي بحث کول غواړم.

د ولسي جرګې له ټاکنو وروسته په سملاسي توګه د درغلیو، لاسوهنو، جعلي کارتونو د استعمال، د ټاکنو په ناخپلواک کمیسیون کې د رشوتونو د راکړې ورکړې، د لوړ پوړیو چارواکو د کورنیو د غړیو له خوا له هېواده بهر او دننه د ډالرو په مقابل کې د یو شمېر کاندیدانو د بریالي کولو تېرونه وهل او نورې د توکمونو په لور د میلان آوازې خپرې شوې، دا چې په ټاکنیزو مرکزونو کې د ټاکنو مسؤولو مامورینو د پیسو په مقابل کې د شتمنو خو په ولس کې منزوي کاندیدانو په پلوی کومې کارنامې سرته رسولې وې، هغه ټولې د ټاکنو په ناخپلواک کمیسیون کې د ډالرو تر سیورې لاندې غلې او ترې تمې شوې، هغه رأیې شمېرنې چې د ټاکنو په مرکزونو کې صندوق په صندوق ترسره شوې وې، هغه ټولې نادیده وګڼل شوې او د مرکزي کمیسیون له لوري د معاملاتو له مخې د ټاکنو پایلې په فیصدي ډول د نورو لازیاتو ورکړو راکړو په خاطر وخت په وخت د انټرنېټ له لارې اعلانېدې، او هماغه ښاغلي په نوبت نوبت بریالي اعلانېدل، چې ورکړه یې تر نورو زیاته وه، او بالاخره هغه وخت هم راورسېده چې د ټاکنو د کمیسیون مشر ښاغلي مولوي قاضي معنوي صاحب ! ! ! پایلې اعلان کړې او د معترضو کاندیدانو په څواب کې یې په پایلو کې د بدلون په باب وفرمایل: "این خیال است و محال است و جنون ".

ولې د معترضو کاندیدانو د مطبوعاتي کانفرانسونو، مظاهرو، لاریونونو او د هېواد عدلي او قضایي ارګانونو ته د اسنادو وړاندې کولو او د ښاغلي جمهور رئیس سره په ناسته کې د موجهو دلایلو د وړاندې کولو ترڅنګ د ثابتو شواهدو په رامخته کولو سره جمهور رئیس اړ شو، چې د ټاکنیزو درغلیو او بې عدالتیو د څېړنې لپاره د سترې محکمې په چوکاټ کې د یو کمیسیون فرمان صادر کړي. چې بیا همدغه کمیسیون د هېواد په ټولو ولایاتو کې د اعتراض کوونکو رأیې له سره وشمېرلې، او په پایله کې یې د (۶۲) بریالیو وکیلانو پرځای (۶۲) نور معترض کاندیدان بریالي اعلان کړل.

که څه هم د ولسي جرګې بریالیو کاندیدانو د څېړنو کمیسیون د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون له مخې غیر قانوني وباله، ولې د سترې محکمې په غونډه کې د ټاکنو د څېړنو خاځګړی کمیسیون قانوني وبلل شو او په دې باب یې مطبوعاتي اعلامیه هم خپره کړه، او بیا چې کله همدغه خاځګړي کمیسیون د خپلو څېړنو پایلې اعلان کړې، بیا هم د سترې محکمې په غونډه کې دغه پایلې قانوني وبلل شوې او د یوې اعلامیې په ترڅ کې یې تائید کړې.

بلې خواته د خاځګړي قضایي کمیسیون د جمهور رئیس د خاځګړي محکمې پرېکړه د کابل د استیناف محکمې ته وسپارله، د استیناف محکمې هم د خاځګړې محکمې پرېکړه تائید کړه او هغه (۶۲) معترض کاندیدان بیا هم بریالي وګڼل شول.

د استیناف د محکمې له قرار صادرولو وروسته جلالت مآب جمهور رئیس د خپلو قانوني سلاکارانو سره له مشورو وروسته د ټاکنو د کمیسیون رئیس جناب محترم معنوي ! ؟ صاحب ته امر وکړ، چې پرېکړه اعلان او دغه جنجال ته د پای ټکی کېږدي.

د جمهور رئیس ددغه فرمان له صادرولو سره ښاغلي معنوي ته یو ځل بیا موقع په لاس ورغله، چې د خپل زړه پاټې غوټې هم پرانیزي او هغه دا چې د ټاکنو د وروستیو پایلو د اعلان پرېکړو پرخلاف په ولسي جرګه کې د قانون د ملاتړ په نامه یو ائتلاف رامنځته شو او ګواښ یې وکړ چې که د خاځګړي کمیسیون پرېکړې عملي شي یعني (۶۲) بریالي ګڼل شوي کاندیدان له ولسي جرګې وه ایستل شي او پرځای یې (۶۲) نور ولسي جرګې ته لاره پیدا کړي، دوی به په هېڅ ډول دا وړ عمل ونه زغمي، د همدغو کشمکشونو په نتیجه کې دمخه چې کوم نهه کسان د معاملې له مخې بریالي کېدل د شکایاتو کمیسیون ته د رسېدلیو شکایاتو او یا د شکایاتو له کمیسیون نه د لاپروایی په نتیجه کې ناکام ګڼل شوي وو، ښاغلي معنوي صاحب هماغه نهه کسان بیا بریالي اعلان کړل او په دې ډول یې د سترې محکمې د اعلامیو، د لویې څارنوالی د اسنادو د خاځګړې محکمې او استیناف محکمې ټولې پرېکړې، قضایي قرارونه او اعلامیې د حقارت په ترینګلی ووهلې او د ټاکنو د کمیسیون اړوند د شکایاتو د کمیسیون اخستي معاشونه یې هم حرام ثابت کړل، ځکه هغوی په دې ټوله موده کې همدا یو کار کړی و، هغه هم بابېزه وګڼل شو.

اوس به راشو دې خبرو ته چې له یوې خوا د ښاغلي معنوي صاحب نویو بریالیو کاندیدانو پرته له هر ډول څرګندو قانوني شواهدو د ولسي جرګې غړیتوب ترلاسه کړ، بلې خوا ته د ولسي جرګې د قانون د ملاتړ ائتلاف د ولسي جرګې په عمومي غونډو کې له ګډون نه انکار کړی او دربیم لوري ته معترضو کاندیدانو بیا هم د اعتراض په توګه د پښتونستان په چوک کې ارګ ته څېرمه خېمه درولې ده، ښاغلی معنوي صاحب چې د لويې څارنوالی له خوا ممنوع الخروج اعلان شوی و، نوره یې هم سترګه سره شوه.

اوس خبره داده چې د معنوي صاحب په دې نوي کار او ابتکار ټول قانوني ارګانونه چوپه خوله دي، هېڅا هم د خپلو تېرو پرېکړو، اعلامیو او قرارونو او همدا ډول رسنیو ته په واز کومې د کړیو وینا ګانو د تاید او اثبات لپاره غوږ قدرې هم ونه ګراوه، نه سترې محکمې د خپلو اعلامیو په ملاتړ غږ پورته کړ، نه لویې څارنوالی د خپلو ترلاسه کړیو اسنادو په تایید ځان وښوراوه، نه د ښاغلي جمهور رئیس له خوا د ځانګړې محکمې قاضیانو د خپلې پرېکړې په ملاتړ څه وویل، نه د کابل د استیناف محکمې د خپل صادر کړي قرار په باب څرګندونې وکړې، او نه جلالت مآب جمهور رئیس د خپلو فرمانونو ننګه وکړه، ناڅاپي جانجوړ شول، او ښاغلي معنوي خو په دې نوي بدلون خپل جنون او لېونتوب هم ثابت کړ، خو داسې لېونتوب چې د سرتمبګی انتها یې وکړه.

اوس به راشو د دولتي مسؤولو چارواکو په باب:

۱-آیا د جلالت مآب جمهور رئیس د خاځګړي کمیسیون فرمان غیر قانوني و؟

۲-آیا د سترې محکمې د خاځګړي کمیسیون په باب دوه اعلامیې غیر قانوني وې؟

۳-آیا د لویې څارنوالی له خوا په ټاکنو کې درغلی دروغ او جعلي وې؟

۴-آیا د کابل د استیناف محکمې قرار د خاځګړي کمیسیون د پرېکړې په باب ناقانونه و؟

که دا هر څه له پیله ناقانونه وو، نو بیا ولې پرې د ملت یو کال په ناندریو کې تېر شو؟ او که دا هر څه د مصلحتونو پر بنا شوي وي او اعتبار یې نه لاره، نو د خدای جل جلاله لپاره د ملت لپاره هغه د اعتبار وړ لارې چې واسطې، پیسې او ځانګړې اړیکې پکې نه کارول کېږي په ګوته کړئ.

عالي جنابانو !

دا مظلوم ملت وروسته له دې حق لري چې د پښتو دا لنډۍ له ځانونو سره زمزمه کړي:

جانانه څه شی به دې یاد کړم
چې ناکردې دې یادوم ژړا رازینه

سید جلال الدین "حسیب"

---

# لویه جرگه واقعاً عنعنوی!؟

دوکتور محمد انور

روز پیشتر آقای علیزی والی کابل مجلسی را در تائید از دایر شدن لویه جرگهٔ عنعنوی دعوت نموده بود و ایشان با الفاظ قاطع در تائید و دفاع از آن سخنرانی و حاضرین مجلس را که شاید به زعم وی اشتراک کنندگان در لویه جرگهٔ عنعنوی تشخیص شده باشد در همین مسیر تلقین مینمودند.

تبصرهٔ مطبوعات و رسانه ها اینست که بعضی از نماینده گان ولسی جرگه دایر شدن لویه جرگهٔ را بنام عنعنوی مغایر قانون اساسی افغانستان و تحدیدی به صلاحیت های قوهٔ مقننهٔ کشور میدانند (خود آنها) و مجالسی را مقامات مسؤول دولت در تائید این لویه جرگه ترتیب مینمایند. مداخله در صلاحیتهای نماینده گان مردم عنوان میکنند.

آقای والی کابل به این صورت ثابت میسازد که اوشان این لویه جرگه را عن (رئیس جمهور کرزی، اخضر ابراهیمی و شرکاء) عن داکتر نجیب الله، عن ببرک کارمل، عن والا حضرت سردار محمد داؤد، عن اعلی حضرت محمد ظاهر شاه، عن والا حضرت سردار شاه محمود خان، عن والا حضرت سردار محمد هاشم خان و عن اعلی حضرت محمد نادر شاه...

در اینجا همانا عنعنه منحیث لفظ مفهوم و تعامل کاملاً صدق میکند که اوشان به همان راه روان اند که اسلاف شان روان بوده اند اما آنچه از نظر صلاحیت و نتایج مطرح است اینست که در ربع اول قرن بیست و یکم میتواند همچو مجالس جوابگوی نسل موجودهٔ جهادی، جوانان آگاه و جامعه جهانی ناظر بر اوضاع واقع گردد؟

این مداخله تاریخ تیره یی را تداعی میکند و آگاهان امور را در دعوت از لویه جرگهٔ بنام عنعنوی به تاریخچهٔ نزدیک و دوری متوجه میسازد که:

آقای کرزی به همیاری اخضر ابراهیمی مجلسی را با اکثریت اعضای انتصابی برای مهر تائید نهادن بر قانون اساسی (قانون اساسی ایکه ابهامات آن مشکلات یومیهٔ نظام، مردم و اسباب ناامیدی آشنا و بیگانه را در دوام و بقای سلامت نظام فراهم نموده است) و قبل از آن مجلس مشابهی را برای تائید از دوام حکومت داری خود شرکای قدرت و تیم همراه شان دایر نموده بودند.

لویه جرگهٔ که داکتر نجیب الله و ببرک کارمل با استفاده از زور سرنیزهٔ قوای متجاوز شوروی و در سایه تهدید غرش تانکها و طیارات شوروی برای مهار نمودن قیام ملت افغان، توجیه مظالم شوروی وقت، سر و صورت دادن به نظام آبرو ریخته و پوشالی شان دایر می نمودند و هیچکس جرأت ابراز نظر را در آن نداشت مگر گماشته گان دستوری و نمایشی خود آنها.

لویه جرگهٔ را که محمد داؤد برای کسب تائید از قانون اساسی ساخته و پرداختهٔ ذهن خودش و بدست آوردن مشروعیت ریاست جمهوری اش دایر نموده بود، نماینده گان آن به همین منوال به فرمایش وزرا، والیان و ولسوالان نظام به مجلس کشانیده شده بود که نتایج تلخ انحصار طلبی داؤد و خاموشی حضار این لویه جرگهٔ (برای نام)! کشور را چنان آتش زد که شعله های آن تا کنون که سی و سه سال از آن میگذرد نه تنها وطن ما که تا اقصی غرب جهان را میسوزد.

لویه جرگه های را که محمد ظاهر شاه، محمد داؤد در دورهٔ صدارتش، شاه محمود خان، محمد هاشم خان و محمد نادر خان به اهداف و مناسبتهای دایر نمودند مجالس ساخته و پرداختهٔ حکام، والیان و سردمداران نظام آنها بوده که مهرهای تائید این نماینده گان از قبل در اختیار دارالانشاء این لویه جرگه ها قرار داشته که برای هیچ زنده جانی مجال دم از مخالفت زدن در آن باقی نمانده است.

آنهایی که به عنوان نماینده مظلومانه به این مجالس کشانیده میشدند زیر تأثیر فضای اغتناق نظام جرأت کشودن دهان را برای ابراز نظر نداشتند و تلقین ها و رهنمودهای سردمداران نظام آنها را چون اسب گادی قیضه بر دهان می انداخت که بسوی دیگر دیده هم کشوده نمی توانستند چه رسد به ابراز مخالفت با فیصله های این جنابان.

اکنون که آقای رئیس جمهور امر خطیر دوام حضور قوای امریکایی و امضای پیمان استراتیژیک با آن کشور را در گرو تائید لویه جرگهٔ عنعنوی ساخته اند و اگر قرار چنان باشد که بجای قوهٔ مقننه و نماینده گان واقعی مردم کشور ما، گماشته گانی از وزرا، والیان، ولسوالان و سایر زورمندان قوای اجرائیه بر توافقاتی که آقای رنگین دادفر اسپنتا در غیاب نماینده گان قانونی ملت افغانستان متن آنرا تهیه نماید صحه بگذارند و نام آنرا فیصلهٔ ملت افغانستان عنوان کنند *بدا به حال ملت مظلوم ما.*

---

# مسؤول کیست؟

محمد عابد ( لنداک )

از انتخابات گذشته ولسی جرگه تقریباً یک سال میگذرد در وقت کمپاین انتخاباتی وعده های چرب و دروغین کاندیداهای ولسی جرگه کشور دیوارهای شهر کابل و ولایات را فراگرفته بود. از یک طرف پول های گزاف و از طرف دیگر شعارهای بی مورد و غیر قابل تطبیق این جنابان مردم با عزت ولی خوش باور ما را در یک رقابت ناسالم بین خود مصروف ساخته بود. به هر صورت پروسه انتخابات که خالی از تقلب و تخلف نبود به پایان رسید، کمیسیون انتخابات و در رأس آن آقای فضل احمد معنوی بدون در نظر داشت اینکه ماده های قانون انتخابات را درنظر بگیرد و نتایج انتخابات جعلی را به اشاره بعضی افراد و اشخاص مغرض اعلان نمودند. نقض صریح قانون انتخابات که آن سری بودن و عمومی بودن انتخابات پارلمانی بود از طرف کمیسیون مستقل انتخابات نادیده گرفته شد. از طرف دیگر دولت مکلف است که امنیت را در سرتاسر کشور تأمین نماید و زمینه را برای انتخابات شفاف و عادلانه مساعد سازد. که متأسفانه دولت افغانستان توان تأمین امنیت افراد بلندپایه خود را نداشته و در این اواخر مردم ما شاهد این ادعا میباشد، توام با ختم انتخابات ولسی جرگه و اعلان نتایج آن یکعده از کاندیداهای که حق شان واقعاً تلف شده بود و یکعده دیگری که میخواست ازین موقع استفاده بکند اعتراضات خود را ابراز نموده اند.

دولت افغانستان بدون اینکه این را درک نماید که تا چه حد میتواند از حقوق قانونی این مردم دفاع کنند. محکمه اختصاصی را تشکیل نموده و تمام قضایای تقلبات انتخاباتی را به آن محول نموده اند.

محکمه اختصاصی بعد از غور و بررسی در تمام ولایات کشور فیصله نموده اند که شصت و دونفر اعضای برحال از ولسی جرگه اخراج و جای آن را شصت دو نفر معترض بگیرد، بعداً محکمه استیناف حکم محکمه اولی را تایید و آن را قانونی خواند. در همین جریان ولسی جرگه افغانستان لوی څارنوالی رئیس و پنج عضو ستره محکمه را سلب اعتماد نموده اند.

بعد از کشمکش های زیاد بین هر سه قوه اساسی دولت محکمه اختصاصی که تحت فشارهای متعدد داخلی و خارجی بود. دوسیه تقلبات انتخاباتی سال ۱۳۹۰ را به رئیس جمهور تفویض نمود. رئیس صاحب جمهور بدون درنظر داشت اینکه دولت افغانستان یک دولت اسلامی است و حکم محکمه در آن نهایی میباشد و خواه نخواه باید تطبیق شود، دوسیه تقلبات انتخاباتی را به کمیسیون به نام مستقل انتخابات سپرد، کمیسیون انتخابات خلاف تمام موازین و مقررات موجوده کشور (۹) نفر که هشت نفر آن از طرف محکمه اختصاصی نیز سلب صلاحیت شده بود ناکام اعلان نموده اند.

حالا سوال در این جاست که دولت افغانستان در راس آن حامد کرزي و رئیس مستقل انتخابات آقای معنوی که هر دوی آن عامل و مسؤول بحران کنونی که بین هر سه قوه اساسی دولت بوجود آمده میباشد. اگر انتخابات شفاف و عادلانه بود پس ضرورت تشکیل محکمه چه خواهد بود؟ و اگر کار محکمه اختصاصی غیر قانونی بود پس چرا (۹) عضو که آنهم مظلوم ترین و بی واسطه ترین اعضای ولسی جرگه بود سلب صلاحیت شد. این بی قانونی ها و قانون شکنی های خود رئیس صاحب جمهور بحیث فرد اول کشور و آقای فضل احمد معنوی که مربوط به یک گروه و حزب سیاسی میباشد. باعث شد که تا کشورهای بیرونی باالخصوص کشورهای همسایه به افراد استخدام شده خویش وظیفه بدهد تا در داخل ولسی جرگه دست به یک سلسله اعتراضات غیر قانونی بزنند. و مملکت غریب و بیچاره ما را در یک بحران دیگر داخل نماید این تشنه گان قدرت، مدافعین دروغین دیموکراسی، بلبلان فریب دهندهٔ شعارهای عدالت خواهی دیگر نمیتواند اذهان مردم ستم دیده و رنج کشیده کشور عزیز ما افغانستان را مختل سازند. و اگر رضای خداوند کریم بود روزی خواهد رسید که این غداران عوام فریب و تاجران خائن آرای مردم زیر نام پلید دیموکراسی رسواء و به جزای اعمال خویش برسد. به امید افغانستان آزاد و سربلند.

# شورای عالی صلح افغانستان از طرح ایجاد دفتر سیاسی طالبان در قطر حمایت می کند

کابل، رسانه ها:
شورای عالی صلح افغانستان از طرح ایجاد دفتر سیاسی طالبان در دوهه مرکز قطر حمایت می کند.

مشاور روابط بین المللی این شورا به روز سه شنبه به رادیو آزادی گفت که ایجاد این دفتر برای طالبانی که خود را زیر فشار و تاثیر برخی حلقات استخباراتی پاکستان می دانند فرصت می دهد تا خود در مورد گفتگو با دولت تصمیم بگیرند.

در حالیکه طالبان در مورد گزارش تازه پخش شده مبنی بر گشایش دفتر سیاسی برای آنها در قطر عکس العمل نشان نداده اند، اما شورای عالی صلح افغانستان نسبت به این مساله ابراز خوش بینی می کند.

اسماعیل قاسمیار عضو و مشاور روابط بین المللی شورای عالی صلح می گوید: ایجاد یک دفتر یا آدرس مشخص برای طالبان می تواند سهولت های را جهت تقویت و آغاز مذاکرات صلح در افغانستان فراهم سازد.

آقای قاسمیار به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که گشایش چنین دفتر برای طالبان در یکی از کشور ها از پیشنهاد های بود که در گذشته از سوی شورای عالی صلح مطرح شده است.

وی در ادامه گفت:
"این تسهیلات بخاطر ایجاد می شود که طرفین با هم بنشینند و صحبت کنند و بلاخره پای مذاکره به میان بیاید.

داشتن یک دفتر سیاسی برای آنها این امکان را می دهد که از یک فضای گرفته خود را بیرون بکشند و به اراده، خود بتوانند تصمیم بگیرند."

هر چند تا اکنون مشخص نیست که گشایش دفتر سیاسی برای طالبان در قطر از سوی کی مطرح شده اما روزنامه، تایمز لندن به تازه گی نوشته است که قرار است این دفتر تا پایان امسال در دوهه ایجاد گردد.

این روزنامه به نقل از دیپلومات های غربی گفته است که هدف از گشایش این دفتر آغاز رسمی مذاکرات صلح با طالبان افغان می باشد.

در این حال شماری از آگاهان سیاسی افغان نیز به این باور اند که داشتن یک آدرس مشخص برای طالبان می تواند نقش مهم در زمینه، تقویت تلاش های صلح در افغانستان داشته باشد.

فاروق بشر یکی از این آگاهان و استاد در پوهنځی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل قطر را محل مناسب برای فراهم کردن زمینه، مذاکرات با طالبان می داند.

وی در ادامه گفت:
"اگر دفتر به این ها داده می شود این طور فهمیده می شود که این ها را به رسمیت می شناسند.

قطر یک مملکتی است که تا به امروز کدام صدای بر نخواسته که طالبان از انجا بسیج می شوند و در افغانستان فعالیت می کنند. به نظر من این برای اطمینان خاطر افغانستان، امریکا و خود طالبان یک آدرس ثابت خواهد بود."

گفته می شود پیشنهاد ایجاد دفتر سیاسی برای طالبان نخستین بار از سوی عبدالسلام ضعیف سفیر سابق طالبان در پاکستان مطرح گردید که ترکیه، امارات متحده، عربی و ترکمنستان برای تاسیس این نماینده گی عنوان شده بودند.

تلاش های صلح در افغانستان از چند سال به این طرف ادامه دارد و به این منظور اعضای شورای عالی صلح سفر هاي به چند کشور نیز داشته اند.

اما تا اکنون طالبان آغاز هر نوع مذاکرات را مشروط بر خروج فوری نیروهای بین المللی از افغانستان خوانده اند.

# افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

## پښتانه د مشرتابه له ستونزې سره مخ دي

واشنګټن پوست ورځپاڼه لیکي، د اسې ښکاري چې په کابل کې د امریکا سفیر رایان کراکر له واشنګټنه ډېر لیرې دی، علت یې دا نه دی چې دی له کابله د یوه ټیلیفون له لارې چې ډاډه نه دی، خبرې کوي.

کراکر وایي، ستراتیژیک صبر د مسلو د حل اساسي لار ده، چې زموږ امریکایانو ته ګرانه ده.

موږ په افغانستان کې دغه صبر او حوصلې ته اړ یو، په عراق کې هم دې کار ته اړ وو او له پاکستان سره په چلند کې باید هم له دغه صبر او حوصلې کار واخلو.

ورځپاڼه د کراکر له قوله لیکي چې وایي، دی په دې پوه دی چې امریکایان له جګړې ستړي شوي او دی په خپله هم له جګړې ستومانه دی.

واشنګټن پوست لیکي، کراکر د خدمت په موده کې د توغندیو حملې زغملې، د ټلویزیون په پردو کې یې د امریکا د کانګرس د کمېټو له غړیو سره سختې لفظي شخړې کړي او هم یې له دوو تند مزاجو شخصیتونو حامد کرزي او نوري المالیکي سره تند او تیز بحثونه کړي دي.

ورځپاڼه لیکي، ۶۲ کلن کراکر په عراق کې له ماموریت وروسته یو ځل د استعفا هڅه وکړه، خو وروسته چې د اوباما او پتریوس اړیکې له کرزي سره خرابې شوې، دی یې یو ځل بیا د سفیر په توګه کار ته راوباله.

واشنګټن پوست لیکي، رایان کراکر اوس دوه وړاندیزونه لري، یو دا چې د القاعده پرضد د جګړې پای ته رسول په دې مانا نه دی چې دغه جګړه دې هرڅومره ژر ختمه شي.

هغه لیکي، تر اوسه د القاعده یو زیات شمېر د کرکې وړ بې رحمه او مصمم غړي شته او دی فکر نه کوي چې القاعده دې د خپل پخواني مشر په وژلو سره له کاره لویدلې وي.

واشنګټن پوست د کراکر په په وینا لیکي، یو بل تریخ واقعیت دا دی چې د القاعده برخلیک د افغانستان او طالبانو د ډلې له برخلیک سره تړلی دی.

کراکر وایي، القاعده ځکه په افغانستان کې نشته چې موږ امریکایان هلته یو او که له وخته مخکې له افغانستانه وځو افغانستان به بیا د طالبانو لاس ته ولوېږي او هاغه وضعیت به بیرته پردې هېواد حاکم شي چې د سپتمبر د یولسمې حملو دمخه پرې حاکم وو او القاعده به بیرته نړیوال جهاد ته مخه کړي.

دی وایي، په دې خاطر موږ ته پکار ده چې کارونه سم ترسره کړو.

**فاینشل ټایمز:**

پښتانه رواني جګړې ډېر کړولي دي، بریتانوی فاینشل ټایمز ورځپاڼه تردې سرلیک لاندې په یوه مقاله کې له یو لړ څرګندونو وروسته لیکي، د امریکا متحده ایالاتو پر افغانستان یرغل وکړ او د القاعده مشران یې د پولې په اوږدو کې قبایلي سیمو ته تېښتې ته اړ کړل.

دا هغه سیمه ده چې د پاکستان په وړاندې د جګړې د زیاتوالي په اصلي محور بدله شوې.

فاینشل ټایمز لیکي، دغه سیمه د جهادیانو د جذب پر قوي بدله شوې او هم یې په افغانستان کې د پنټاګون د ستراتیژۍ په وړاندې ستونزې راولاړې کړي.

د ورځپاڼې په وینا دې حقیقت د امریکا ولسمشر بارک اوباما دې ته اړ کړ چې قبایلي سیمې، په نړۍ کې متحده ایالاتو ته تر ټولو خطرناکې سیمې یادې کړي.

ورځپاڼه لیکي، دا سیمې په خپله د پښتنو لپاره هم مخ په زیاتیدونکو خطرونو بدلې شوې.

پښتانه چې له دې پرته هم د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یولسمې حملو د مخه له پامه غورځول شوي و، ځان وژونکو بم چاودنو، پوځي عملیاتو او د طالبانو منظمو حملو یې ژوند نور هم تریخ کړی.

طالبانو د سلګونو قومي مشرانو په وژلو سره هڅه کړې چې د پښتنو د ژوند دودیز جوړښت له منځه یوسي.

په زرګونو کسان په ځان وژونکو حملو کې چې د سپتمبر د یولسمې له حملو د مخه ظاهرا په پاکستان کې نه وې عام شوې، وژل شوي دي.

د فاینشل ټایمز ورځپاڼه لیکي، په ۲۰۰۹ کال کې چې شخړې اوج ته رسیدلې وې، د پاکستان په شمال لویدیځ کې له دریو میلیونو څخه زیات پښتانه خپل کور اور پریښودو ته اړ کړی شوي و.

ورځپاڼه لیکي، راتلونکې لسیزه به وښیي چې ایا د پښتنو د اصولو دودیزسیستم بیرته ځان رغوي او که وروستي تحولات ټولنه د یوې ابدي جګړې مسیر ته غورځوي.

په افغانستان کې د پاکستان پخواني سفیر رستم شاه مومند فاینشل ټایمز ته ویلي چې پښتانه د مشرتابه له ستونزې سره مخ دي.

د پښتونو وضعیت یوې داسې بیړۍ ته ورته دی چې ماڼویا چلونکی نه لري او زیاته یې کړه پښتانه نن ورځ د خپل ژوند په زرو کالو کې له ترټولو ستر مصیبت سره مخامخ دي.

### تا سال ۲۰۱۴ تعداد عساکر ...

تورن جنرال مایکل دی معاون قوماندان تعلیم و تربیه نظامی ناتو گفت: در حالیکه فرار این سربازان یک مساله به شمار می رود، اما این موضوع برنامه ایجاد یک اردوی مدرن و مجهز را که بتواند علیه جنگجویان شورشی مبارزه کند، متاثر ساخته نمی تواند.

معاون قوماندانی تعلیم و تربیه ناتو که یک جنرال کانادایی است به خبرنگاران گفت:
"این مساله بر توانایی ما جهت تکمیل تعداد تعیین شده، عساکر که ما خواهان آن هستیم، تاثیری ندارد. ما گفته می توانیم که تا پایان سال ۲۰۱۴ میلادی یک اردوی ملی ۱۹۵ هزاری افغان را ایجاد می کنیم و ما همین اکنون در جریان آن قرار داریم."

این جنرال نیروهای ناتو گفت که هر روز در سراسر کشور هزاران تن در مراکز ثبت نام شمولیت در اردوی ملی صف می بندند.

از سوی دیگر، نظر به ارقام نشر شده از سوی ناتو از ماه جنوری امسال تا ماه جون، ۲۴ هزار عسکر از صفوف اردوی ملی فرار کرده اند که این رقم نسبت به سال گذشته یک افزایش دو برابر را نشان می دهد.

اما جنرال جیکوپسن سخنگوی نیروهای آیساف در کابل در یک کنفرانس خبری گفت که جلب و جذب در صفوف اردوی ملی بطور عادی جریان دارد و ماهانه حدود ۷ هزار سرباز به اردوی ملی جذب می شوند.

گفته می شود حدود ۳۰۰۰ مربیان و رهنما های افغان هم در آموزش و استخدام این نیروها با ناتو کمک می کنند.

### د میدان وردګ زوروره حمله ...

ثبات لپاره تر ټولو په لوی خطر بدله شوې ده.

د امریکا د لوی درستیز یوه ویندوی سمندري کیپتان جان کیربي وویل: "دا برید د یو داسې کس له لوري نه دی شوی چې د چاودېدونکو موادو کمربند تر ځان تړلي، دا په یوه لویه - لویه لارۍ کې د زیاتو چاودونکو موادو په وسیله شوی. دا ډول حمله له ښو امکاناتو، ښه پلانونې او مناسبې هماهنګۍ پرته څوک نه شي کولی."

چارواکو ویلي دي چې په دې حمله کې پنځه افغانان وژل شوي چې د یوې درې کلنې نجلۍ په شمول څلور یې ملکیان ول.

د سید اباد ولسوالۍ په دې برید کې اوولس نور افغانان، چې څوارلس یې ملکیان او درې پولیس وو، ژوبل شوي دي.

د میدان وردک والي ویلي چې دا چاودنه دومره زوروره وه چې د سیداباد ولسوالۍ د بازار شاوخوا سل دوکانونه یې زیانمن کړي دي

### امریکا په قطر کې د طالبانو ...

د متوکل په وینا، ددې دفتر په رامنځته کېدو سره به له نړیوالې ټولنې سره په امریکا،پاکستان او ګوانتانامو کې د طالبانو د زندانیانو په اړه د خبرو اترو زمینه مساعده شي.

هغه زیاته کړه: "ددې دفتر په رامنځته کېدو سره د دولت او طالبانو ترمنځ د روغتیایي موضوعاتو لکه د واکسین تطبیق، د ښوونځیو په اړه د ستونزو او د رسنیو لپاره د موضوع د وضاحت زمینه برابره کېدای شي."

د هغه په وینا، دا مرکز د طالبانو د یوې نماینده ګۍ په توګه کولی شي،څو له نړیوالو موسساتو او ټولو هیوادونو سره د طالبانو د تفاهم زمینه برابره کړي.

په کابل کې د امریکا د سفارت ویاند ګوین سندوال وایي،چې د افغانستان دولت تررهبرۍ لاندې د ملي پخلاینې له پروګرام څخه ملاتړ کوي ، خو په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر په اړه کوم نظر نلري.

نوموړي وویل: "موږ په دې باور لرو،چې سوله په افغانستان کې یواځې له نظامي لارې رامنځته کېدای نشي، نو د سولې د تامین لپاره باید سیاسي هڅې هم ترسره شي."

همدارنګه د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وایي،چې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر د رامنځته کېدو په اړه یې یواځې له رسنیو څخه راپور ترلاسه کړی او تراوسه له هغوی سره په دې اړه مستقیمه اړیکه نه ده نیول شوې.

هغه زیاته کړه: "که چیرته له موږ سره مستقیمه اړیکه ونیول شوه، نو موږ به خپل دریځ واضح کړو، خو اوس نه غواړم په دې اړه څه ووایم."

د یادونې ده،چې تراوسه د افغانستان دولت په دې اړه څه نه دي ویلي.

### حامد کرزی از مخالفین مسلح ...

است و ما امروز نتیجه، آن را می بینیم. کوشش های شان بیجا و بی نتیجه است.

امروز باز هم از طالبان و از تمام کسانیکه بر ضد کشور شان سلاح برداشته اند می خواهم که از جنگ دست بردارند، زیرا آنان نیز فرزندان همین کشور اند.

از ظلم دست بردارند و جلو ترقی کشور را نگیرند تا در تاریخ از آنان نام نیک باقی بماند نه نام بد."

حامد کرزی رییس جمهور افغانستان داشتن اداره، قوی را یکی از نیاز های جامعه، افغانی خواند و افزود فارغان انستیتوت اداره و منجمنت باید کار در ادارات دولتی را ترجیح دهند.

آقای کرزی تعهد سپرد تا در قسمت فراهم نمودن زمینه کار برای این فارغان در ادارات دولتی در جلسه کابینه صحبت کند.

رییس جمهور افزود آنان تصمیم دارند برخی از این جوانان را جهت آموزش دهی بهتر به خارج از کشور بفرستند.

وی افزود:
"این فارغان از سوی انستیتوت خدمات ملکی در ادارات دولتی جذب می شوند، خوشبختانه جلسه، خاص کابینه به روز و شنبه دایر می شود.

در این جلسه ما در مورد جذب این افراد در ادارات دولتی صحبت خواهیم کرد. کوشش می نمایم تا از سوی حکومت افغانستان به این ظرفیت ها رسید گی شود.

ما از این جوانان در ادارات کار خواهیم گرفت و بر علاوه برخی از این افراد را جهت کسب تحصیلات عالی به کشور های دیگر می فرستیم."

مقام های وزارت معارف کشور می گویند: در حال حاضر ۸.۰ ملیون جوان در افغانستان مصروف کسب آموزش است و این رقم ۶۲ درصد از جوانان کشور را تشکیل می دهد.

به گفته، این مقامات، ده سال قبل از هر ده طفل واجد شرایط آموزش فقط یک تن آن به امکانات کسب تعلیم دسترسی داشت و به این ترتیب ۱۵۰۰ تن در سراسر کشور فرصت دسترسی به تعلیمات را داشتند.

### چینایي کمپنی د افغانستان په ...

په واشنګټن کې د چین او افریقا د اړیکو لیکواله دیبوره براټیګم وایي: "چین له دې سره سره چې غواړي د طبیعي سرچینو امنیت د ځان لپاره تضمین کړي، نور پراخ هدفونه لري.د چین دولتي کمپنی احتمالاً له افغانستان سره په معاملو کې مالي، ستراتیژیکې او سیاسي ګټې تعقیبوي خو د دې په څنګ کې دا هم په نظر کې لري چې پر طبیعي زېرمو کنټرول ترلاسه کړي."

د افغانستان ولسمشرحامد کرزي تېره میاشت د کانونو وزارت ته اجازه ورکړه چې له چینایي کمپنی سره د امو په غاړه په درو سیمو کې د تېلو د استخراج په برخه کې موافقه وکړي.

په دې سیمه کې اټکل کېږي چې اتیا ملیون بېرله تېل موجود وي. که څه هم د تېلو اندازې ته په پام سره د چینایي کمپنی لپاره دا وړه معامله ده خو هغې ته فرصت ورکوي چې له افغانستان سره په راتلونکي وخت کې لا لوی تړونونه لاسلیک کړي.

د افغانستان او تاجکستان ترمنځ د اموسین په تل کې د یونیم ملیارد بېرلو تېلو د موجودیت اټکل کېږي.

د افغانستان حکومت به د تېلو د استخراج بله حوزه د فبروری په میاشت کې مزایدې ته وړاندې کړي.

له چین سره په وروستي قرارداد کې د افغانستان لپاره یو مهم ټکی دا دی چې چینایي کمپنی به د افغانستان لپاره د تېلو د تصفیې لپاره چاڼخای جوړ کړي.دا کار به افغانستان، چې د خپلې اړتیا ټول تېل له بهره واردوي، د تېلو له زیاتو وارداتو خلاص کړي.

د افغانستان د کانونو وزارت وایي چې چاڼخای به له یوې خوا مرسته وکړي چې په وارداتي تېلو د افغانستان زیاته اتکا کمه شي او له بلې خوا به قیر په لاس ورکړي چې حاضر دمه افغانستان ورته سخته اړتیا لري او د وارداتي قیرو په ترانسپورت د هغه تر اصلي ارزښت زیات لګښت کېږي.

تر دې مخکې تېر کال د ازبکستان پولې ته نژدې په افغانستان کې یو چاڼخای پرانستل شوی چې د ورځې پنځه سوه ټنه تېل تولیدوي.

افغانستان د ورځې شپږ څلوېښت زره بېرلو تېلو ته اړتیا لري.

### د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ...

جګړې په دوام ټینګار کوي.

د مصطفی عبد الجلیل په مشرۍ د لیبیا د انتقالي شورا د ځواکونو له خوا د طرابلس تر نیول کېدو وروسته د قذافي د کورنۍ یو شمېر غړي الجزایر او نیجر ته تښتېدلي دي.

د قذافي د واکمنۍ پر مهال افغانستان له لیبیا سره دیپلوماتیکې اړیکې لرلې، خو د تېرې کب په میاشت کې په دغه هېواد کې د حکومت پر وړاندې د پاڅون له پیل وروسته د افغانستان سفارت په طرابلس کې وتړل شو.

د طالبانو د رژیم له ړنګېدو وروسته لیبیا د شاوخوا دریو کلونو لپاره په افغانستان کې خپل سفارت پرانست ،خو د نامعلومو دلایلو له امله دغه سفارت وتړل شو.

ویل کیږي چې د قذافي په مشرۍ د لیبیا دولت د طالبانو له رژیم سره هم اړیکې لرلې ، خو رسمي به یې نه وه خپله کړې.

شهادت ورځپاڼه
دغه رنګ موتاسي غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
- رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com